د ثواب لوی والی د مصیبت په لوی والی سره دی، او الله - تعالی - چې کله د کوم قوم سره مینه ولري، په مصیبت سره یې امتحانوي؛ نو څوک چې خوښ و د هغه لپاره رضایت دی او څوک چې ناراضه و د هغه لپاره نارضایتي ده

له انس بن مالک رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د ثواب لوی والی د مصیبت په لوی والی سره دی، او الله - تعالی - چې کله د کوم قوم سره مینه ولري، په مصیبت سره یې امتحانوي؛ نو څوک چې خوښ و د هغه لپاره رضایت دی او څوک چې ناراضه و د هغه لپاره نارضایتي ده".

[صحیح] [ابن ماجه روایت کړی دی - ترمذی روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث کې مور ته خبر راکوي چې که پر یو مؤمن د هغه په ځان او یا د هغه مال یا بل ډول مصیبت راشي ، نو الله تعالی به ورته د مصیبتونو اجر ورکوي که هغه صبر وکړي. څومره چې په مصیبتونه لوی وي او خطرونه یې زیات وي همغومره یې د الله سره اجر او ثواب زیات دي - بیا هغه - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل - چې آفتونه د مؤمن سره د الله د مینې نښانې دي او دا چې د الله حکم او فرمان حتمي پلی کیږي خوښ او رضایت سره هغه ته پوره اجر اوچاره نشته. خو څوک چې صبر وکړي او راضي شي، الله به د هغه په ثواب ورکړي او څوک چې زړه بدی شو او د الله له حکم او تقدیر څخه یې نفرت وکړ، نو الله به ورڅخه ناراضه شي او پوره جزا به ورکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3339